شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۸/۳۱

# د ځوانانو ځواک

## (لومړۍبرخه)

ځوانان د ټولني تر ټولو ځواکمن او فعال قشر دی چې په هره ټولنه کې د ټولني د ملا تیر او د پرمختګ بنسټ جوړوي. د ځوانانو رول په فکري، اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو کې خورا مهم او ارزښتناک بلل شوي دی. د هرې ټولني راتلونکي په ځوانانو پورې اړه لري.

که چیرې په یوه ټولنه کې ځوانان دغو ارزښتونو او اړتیاوو ته اګاهانه پاملرنه وکړي، طبعی ده چې د ټولني پرمختګ او انکشاف کې ستر بدلونونه راوستلای شي.

همدا ځوانان دي چې د زده کړې او پوهني په ترڅ کې علم او هنر تر لاسه کوي، تر څو د ټولني ستونزې حل کړای شي، ځوانان هغه وخت کولای شي چې ټولنه پرې باور وکړي، چې اخلاقي معیارونه او ارزښتونه وساتلای شي، د کار، زده کړو ژوند او په محیط کې دغو ارزښتونو ته پاملرنه او عمل کې پیاده کول د ځوانانو په ژوند کې خورا ارزښت لرلی شي.

په هیواد مین ځوانان هره چاره د یوه معین هدف له پاره تر سره کوي که هغه علم، پوهه، رهبری، اخلاقی ارزښتونه او معیارونه وي د ټولو په سر کې ځوان باید د دي چمتووالی ولري او په دغه برخه کې پر ځان کار وکړي او باور ولري چې د هیواد راتلونکي د ټولني مسؤلیتونه د دوی پر غاړه دي او د راتلونکي مسئولیت منلو روحیه ولري، ځوانان باید د اخلاقي او انساني ارزښتونو په رڼا کې دا خپله مسؤلانه دنده وګڼي تر څو د ټولني له بې وزلو او اړمنو کسانو سره د خپل وس او امکاناتو په نظر کې نیولو سره مرسته او لاسنیوي وکړي.

د ځوانانو پر دندو او مسؤلیتونو مو لنډه رڼا واچوله، اوس د دې اړتیا شته چې ټولنه او د ټولني نظام د ځوانانو په هکله کومې دندې او مسؤلیتونه لري.

ځوانان د هر هیواد لویې سرمایې دي. ټولنه او حکومتونه مسؤلیت لري چې د ځوانانو له پاره د زده کړو، کار او روغتیایی ښه چاپیریال او شرایط برابر کړي، د هغوی حقوق وساتي، اړتیاوو ته یې جدي پاملرنه وکړي او د هغوی په روزنه او پرمختګ کې اړیني مرستې تر سره کړي.

نظام او حکومتونه هم مکلفیت لري چې ځوانانو ته که هغه ښځینه وی یا نارینه، د ښووني او روزني ښه شرایط په وړیا او معیاري اسانتیاوو د وخت او زمان دغوښتنواو اړتیاوو سره سم د اوسنیو لوړو تکنالوژیو په نظر کې نیولو سره برابرکړي. البته د لوړو زده کړو تر څنګ حرفوی متوسطه زده کړې، اوږد مهاله او لنډ مهاله کورسونه د هغو ځوانانو له پاره چې د ځینو ستونزو له امله نه شي کولای لوړې زده کړې تر سره کړي، رامینځته کړي.

همدا ډول ځوانانو ته د ښوونو تر څنګ د کارموندني پرشرایطو دقیق کار او امکانات برابرول تر څو د زده کړو د فراغت وروسته هم زمان د کار مارکیټ ته شامل شي او د اقتصادي پیاوړتیا له پاره یې نوي پروګرامونه جوړکړل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ټولنه کې اړتیا لیدل کېږی چې د ځوانانو له پاره د روغتیایي او رواني ملاتړ مرکزونه پرانستل شي او د سالمو مشغولتیاوو له پاره سپورتي، ورزشي مرکزونه جوړ شي. لازمي ده چې په سیاسي او ټولنیزو پرېکړو کې ځوانانو ته د ګډون حق ورکړل شي، تر څو ځوانان په دې پوه شي او احساس وکړي، چې دوي د دې ټولنې مالکان دي او راتلونکو تحولاتو او پرمختګونو کې د دوی رول اړین دی.

باید هېر نه شي چې ټولنه هم د ځوانانو په هکله مسؤلیتونه لري د ځوانانو ښه روزنه او کورنی ملاتړ په ټولنه کې د امن او همکاری فضا رامنځته کول. د ځوانانو د مثبتو نظرونو او نوښتونو ملاتړ او تشویق کول.د ځوانانو لارښوونه او د بدو کارونو نه یې مخنیوی او نورو هغو فکتورونو ته پاملرنه چې د ځوانانو په ژوند کې اسانتیاوي راوستلاي شي.

دا یو حقیقت دی چې ځوانان د ټولنې د ټینګښت، ټیکاو او پرمختګ اساسي ستنې او هغه ستر تاقت دي چې دوي پورې هر ډول امیدونه او ارمانونه تړلی شو، د هرې ټولنې، هر قوم او هر ملت اصلاح د ځوانانو په خیر او اصلاح کې ده، د یوه ځوان ارزښت په ټولنه کې داسې دی لکه د انسان په بدن کې چې زړه کوم ارزښت لري.

مخکې تر دې چې په ټولنه کې د ځوانانو د مسؤلیتونو او دندو په هکله وپوهېږو، تر مخه یې لازمي ده چې په دې هم پوه شو چې ټولنه څه ته وایي.

ټولنه د انساني ژوند د ښوو چارو د برابرولو او سمبالولو سیمه ده، چې بیلا بیل انسانان په کې ژوند کوي او دغو وګړو ته د همدې ټولنې وګړي وایي.چې د همدغو وګړو له مجموع نه ټولنه رامینځته کېږي. په یوه ټولنه کې که هغه وروسته پاتې وي او یا ډېره پرمختللې وي، درې ډوله انسانان په کې ژوند کوي چې یوه برخه یې ماشومان، دویمه برخه یې ځوانان اودریمه برخه یې مشران دي.

اوس به وګورو چې د ټولنې د ښه سمون له پاره کوم وګړي زیات ګټور واقع کیدای شي او هغه څوک دي.
حقیقت دي چې هغه همدا ځوانان دي، البته هغه ځوانان چې درک لري او د مسؤلیت احساس کوي پوهه او علمیت ولري په عصري علم او تکنالوژۍ سمبال وي، که چېری دغه عناصر په ځوانانو کې شتون ولري، حتمی ده چې د قوي انرژی، ځواک، وړتیا، په لرلو سره په ټولنه او نظام کې ستر، تولنیز، کلتوری او اقتصادي بدلونونه راوستلای شي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ